دعامي روغتيا او وزارت

روغتيا اوونيزه

پرليـــکه خپـرونه

لومړی پړاو - شپږ پنځوسمه ګڼه

۱۴۴۸-۵-۳

- د عامې روغتيا وزارت د رهبری بورډ شپږويشتمه غونډه ترسره شوه
- د څېړنې ميتودولوژۍ په برخه کې 28 تنه ټرېنر متخصصين فارغ شول
- محترم وزير صحت‌عامه با معاون سازمان همکاری اسلامی و هیأت همراه وی دیدار کرد
- د عامې روغتيا وزارت او WAW موسسې ترمنځ د 269 زره او 738 ډالرو په ارزښت هوکړه‌ليک لاسليک شو
- د عامې روغتيا وزارت د طبي شورا لوی رياست اړوند د طبي فعاليت جواز (معالجوي طب) ازموينه په شفاف ډول واخيستل شوه

دويانډفي اطلاعاتو اوعامه اړيکورياست

د پنځو ولایتونو 15 طبي ټکنالوجستانو ته د چیچک او ویروسي هیپاټایټس د لابراتواري تشخیص درې ورځنی روزنه ورکړل شوه



د عامې روغتیا وزارت د مرکزي لابراتوارونو آمریت له لوري د پنځو ولایتونو د حوزوي لابراتوارونو 15 تنو طبي ټکنالوجستانو ته د چیچک او ویروسي هیپاټایټس د لابراتواري تشخیص (Training on Laboratory Diagnosis of Chickenpox and Viral Hepatitis) ترعنوان لاندې درې ورځنی روزنیزه دوره ترسره شوه

یاده روزنیزه دوره چې د روغتیا نړیوال سازمان په همکارۍ ترسره شوه، په اړه یې د عامې روغتیا وزارت د تشخیصه خدماتو رئیس، دوکتور محمد قاسم صاحبي وویل: دغه روزنیزه دوره د مسلکي او مجربو استادانو له لوري په عملي او نظري بڼه د طبي ټکنالوجستانو د ظرفیت لوړونې په موخه ترسره شوه؛ ترڅو یاد کارکوونکي وکولای شي، زده کړې موضوعات په اړوندو کاري ځایونو کې پلي کړي او هم یې له خپلو همکارانو سره شریک کړي

همداراز، د تشخیصه خدماتو رئیس زیاته کړه، چې په راتلونکي کې به نورو طبي ټګنالوجستانو ته هم ورته روزنیزې دورې په لاره واچول شي او له ګډونوالو یې غوښتنه وکړه، چې له دې فرصت څخه اغېزمنه ګټه واخلي

بیست تُن ادویه و مواد خوراکی تاریخ‌گذشته در ولایت زابل از بین برده شد



مسئولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه ولایت زابل، در نتیجه نظارت از سکتور صحی خصوصی و فروشگاه‌های مواد خوراکی در مرکز و ولسوالی‌های این ولایت، 20 تُن ادویه و مواد خوراکی تاریخ‌گذشته را جمع‌آوری کرده بودند که در حضور مسئولان مربوطه از بین برده شد

په زابل ولایت کې 20 ټنه له نېټې تېر درمل او خوراکي توکي له منځه یووړل شول

د زابل عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو دغه ولایت په مرکز او ولسوالیو کې له خصوصي روغتیایي سکتور او د خوراکي توکو پلورنځیو څخه د ترسره کړې نظارت په پایله کې 20 ټنه له نېټې تېر درمل او خوراکي توکي راټول کړي وو او د اړوندو مسؤلینو په شتون کې له منځه یووړل شول

The Medical Practice License Examination (General Medicine), administered by the Directorate General of the Medical Council of the Ministry of Public Health, was conducted transparently.



The opening ceremony, held at Kabul University, was attended by Sheikh Rahimullah Haqqani, Deputy Minister for Administrative and Technical Affairs of the National Examinations Authority; Dr. Ahmad Shah Shokohmand, Senior Technical Adviser to the Directorate General of the Medical Council; Mawlawi Asadullah Farid, Deputy Chancellor for Financial and Administrative Affairs of Kabul University; examination officials; and numerous candidates.

Al-Hajj Dr. Sheikh Abdul Baqi Haqqani, Director General of the National Examinations Authority; Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Director General of the Medical Council; and several other officials visited the examination venue and assured candidates of the transparency of the examination process.

Biometric registration for candidates taking the Medical Practice License Examination (Stomatology), administered by the Directorate General of the Medical Council of the MoPH, will take place at Kabul University on the 22nd of Mizan.

د خوړو او درملو معینیت پلاوي په هلمند ولایت کې مشورتي، تخنیکي او نظارتي فعالیتونه ترسره کړل



د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت پلاوي هلمند ولایت کې د عامې روغتیا ریاست له مشرتابه او د خوړو خوندیتوب برخې له کارکوونکو سره لیدنې ترسره او د شته ستونزو، د درملو قاچاق او غیرقانوني عرضې مخنیوي، د خوراکي توکو د تولیدي او سوداګریزو تأسیساتو د جوازونو د ترلاسه کولو او د خوراکي توکو د محصولاتو د ثبت بهیر په اړه یې ورسره بحث او خبرې وکړې

همدارنګه، یاد پلاوي له یو شمېر عمده پلورنځیو، درملتونونو، د پنبې د تېلو او اوړو له تولیدي شرکتونو څخه نظارتونه ترسره کړل، چې په ترڅ کې یې اړوندو مسؤلینو ته د غیرقانوني درملو د عرضې مخنیوي، د کورنیو تولیداتو کارونې، د خوراکي توکو د کیفیت ښه والي، د حفظالصحې اصولو د رعایت او د فعالیت جواز د ترلاسه کولو په اړه لازمې سپارښتنې او مشورې ورکړل شوې

توافق‌نامه به ارزش 269 هزار و 738 دالر میان وزارت صحت‌عامه و مؤسسه زنان برای زنان افغان امضا شد



وزارت صحت‌عامه، به‌منظور حمایت از خانواده‌ها و اطفال نیازمند عودت‌کننده و بی‌جاشده و رسیده گی به نیازهای حمایوی آنان، توافق‌نامه‌ای را به ارزش 269 هزار و 738 دالر امریکایی با مؤسسه زنان برای زنان افغان (WAW) امضا کرد. این پروژه در ولایت‌های ننگرهار، کنر و لغمان تطبیق خواهد شد

این توافق‌نامه برای یک سال به هدف ارتقای کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی به خدمات و کاهش مشکلات صحی مردم امضا شده است که. بر اساس آن، 6 هزار و 120 تن از باشنده گان ولایت‌های یادشده از طریق 18 مرکز صحی به خدمات صحی دسترسی خواهند یافت و برای پنج تن نیز زمینه کار در بخش صحت فراهم خواهد شد
از سوی‌هم، نماینده گان مؤسسه WAW اطمینان دادند که این پروژه را در یک سال مطابق معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و به تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد

The Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health conducted inspections of various facilities in Kabul's 5th District



The monitoring team of the Kapisa Public Health Directorate monitored several private health facilities and pharmacies in Hesa Awal Kohistan, Hesa Duwum Kohistan, and Kohband districts.

The team assessed compliance with health laws and regulations, the validity of operating licenses and availability of relevant documents, the supply of medicines and health products in accordance with established standards, and adherence to legal requirements.

The monitoring aimed to prevent the distribution of substandard medicines and illegal activities and to safeguard public health.

As a result, four pharmacies were sealed, and 96 types of expired medicines weighing a total of 13 kilograms were confiscated and transported to a designated site for disposal.

The team also monitored Professor Abdul Rashid Aziz OPD Clinic in Hesa Awal Kohistan district and assessed its existing problems and shortcomings.

په غزني ولایت کې څه باندې 950 زده‌کوونکو ته د نشه‌یي توکو د زیانونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرام ټرسره شو



د غزني ولایت د رونړدو درملنې 50 بستریز روغتون آمریت مسؤلینو د دغه ولایت په مرکز کې د احمدآباد عالي لېسې څه باندې 950 زده‌کوونکو ته د نشه‌یي توکو د زیانونو او د رونړدي کېدو مخنیوي لارو چارو په اړه د عامه پوهاوي پروګرام ترسره کړ
په دې پروګرام کې زده‌کوونکو ته د نشه‌یي توکو د استعمال د ناوړه پایلو، د رونړدي کېدو د مخنیوي لارو چارو، نشه‌یي توکو ته د «نه» ویلو اهمیت، د کورنۍ او ملګرو رول او همدارنګه، د سالم او له نشه‌یي توکو څخه د پاک راتلونکي په جوړولو کې د ځوانانو د مسؤلیتونو په اړه اړین معلومات وړاندې شول
د احمدآباد عالي لېسې مسؤلینو او استادانو د یاد پروګرام هرکلی وکړ او د نشه‌یي توکو د رونړدي کېدو مخنیوي او د ځوان نسل د سالمې روزنې په برخه کې یې د دا ډول پروګرامونو ترسره کول اغېزمن او مهم وبلل

وضعیت مراکز صحی ولایت جوزجان مورد ارزیابی قرار گرفت



مولوی محموداللە زاهد، رئیس تطبیق قوانین صحی و بررسی وزارت صحت‌عامه، و هیئآت تخنیکی همراهش، به‌منظور ارزیابی وضعیت صحی به ولایت جوزجان سفر نمودند
در جریان این سفر، با قاری ذبیح‌الله حسینی رئیس صحت‌عامه ولایت جوزجان، دیدار صورت گرفت و از شفاخانه ولایتی و شماری از مراکز صحی دولتی و خصوصی نظارت به عمل آمد
در جریان این سفر، با، قاری ذبیح‌الله حسینی، رئیس صحت‌عامه ولایت جوزجان نشستی برگزار گردید و از شفاخانه ولایتی و شماری از مراکز صحی دولتی و خصوصی نیز نظارت به عمل آمد
در جریان نظارت، کیفیت خدمات صحی، حضور و نظم کاری کارمندان، وضعیت ادویه و تجهیزات طبی، لابراتوارها، رعایت حفظ الصحه، کنترول انتانات، سیستم ثبت و گزارش دهی و وضعیت عمومی مراکز صحی ارزیابی گردید.
همچنان، به‌منظور ارتقای کیفیت خدمات، کنترول بیماری‌های ساری، استفاده مؤثر از امکانات موجود و ارائه خدمات معیاری به مراجعین، توصیه‌های لازم ارائه گردید و بر پاسخ گویی و شفافیت نیز تأکید صورت گرفت.

Ministry of Public Health Holds Coordination Meeting with Community-Based Primary Healthcare Implementing Partners



The Ministry of Public Health's Community-Based Primary Healthcare Department held a coordination meeting with its implementing partners under the Task Force framework.

The meeting was chaired by Dr. Ahmad Siyar Pasoon, Director General of Disease Prevention and Control. During the meeting, implementing partners presented reports on their activities, and the Community-Based Primary Healthcare Directorate provided recommendations to address challenges identified during monitoring visits.

Participants also reviewed the basic and follow-up training sessions on drug dispensing conducted during the previous quarter and emphasized the need to improve the planning and implementation of future training programmes.

د عامې روغتیا وزارت د رهبری بورډ شپږویشتمه غونډه ترسره شوه



دا غونډه د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په مشرۍ د دې وزارت د مرستیالانو او مرکزي رئیسانو په شتون کې ترسره شوه
په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزیر ښاروس او روسیې هېوادونو ته د خپل ترسره کړي سفر په اړه د بورډ له غړو سره معلومات شریک کړل
سربېره پر دې له غیردولتي نړیوالو سازمانونو سره د هوکړه لیکونو، د ستوماتولوژي څانګې زده کړیالانو او له جواز پرته د ډاکټرانو د فعالیتونو مخنیوي، ډاکټرانو او نورو روغتیایي کارکوونکو ته د فعالیت جواز ورکولو پراوونو د اسانتیا، د عامه تغذیې موجوده حالت، لاسته راوړنو او شته ستونزو په اړه پریزنټیشنونه وړاندې او بحثونه ترسره شول
د عامې روغتیا وزیر ښاروس او روسیې ته د خپل سفر په اړه وویل، چې هلته یې د ښاروس او روسیې له چارواکو سره د ښاښلو ناستو ترڅنګ له روغتونونو، پولي کلینیکونو، پوهنتون او د درملو تولیدي فابریکو څخه هم لیدنې ترسره کړې او د یادو هېوادونو مسؤلینو په یو شمېر برخو کې د همکاریو او ګډ کار لپاره چمتووالی او لېوالتیا هم ووښوده
همدارنګه، د عامې روغتیا وزیر د خصوصي روغتیایي سکتور د اصلاح لپاره پر جدي او لازمو اقداماتو ټینګار وکړ او هم یې په دولتي روغتونونو کې د ستونزو حل، اصلاحاتو راوستو او ورته د اړینو درملو او طبي ملزمې د رسونې په اړه اړوندو مسؤلینو ته اړینې سپارښتنې وکړې
همداراز، په یاده غونډه کې د عامې روغتیا وزارت مرستیالانو او مرکزي رئیسانو د مطرح شویو موضوعاتو په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک او ډاډ یې ورکړ، چې د خپلو مسؤلیتونو په برخه کې به لازم اقدامات ترسره کړي.



محترم وزیر صحت‌عامه با معاون سازمان همکاری اسلامی و هیأت همراه وی دیدار کرد



محترم مولوی نورجلال جلالی، وزیر صحت‌عامه، با محترم سفیر طارق علی بخیت، و هیأت همراه وی، در دفتر کاری خود (OIC) معاون سرمنشی سازمان همکاری اسلامی دیدار کرد
در این دیدار، در مورد تداوم همکاری‌ها با نظام صحی افغانستان، جلوگیری از بیماری‌های ساری و تقویت هماهنگی و همکاری میان کشورهای اسلامی در بخش صحت، بحث و تبادل نظر صورت گرفت
محترم مولوی نورجلال جلالی، فراهم‌سازی تجهیزات مورد نیاز شفاخانه‌ها در سطح ولسوالی‌ها، برنامه‌های ارتقای ظرفیت کارکنان صحی و فراهم‌سازی زمینه امضای تفاهم نامه‌ها با حکومت‌های کشورهای اسلامی در بخش صحت را از جمله خواسته‌ها و پیشنهادهای خود با هیأت سازمان همکاری اسلامی شریک ساخت
همچنان، وزیر صحت‌عامه در مورد فراهم‌سازی تجهیزات مورد نیاز برای شفاخانه تداوی بیماری‌های سرطانی و بخش قلب، انجام عملیات جراحی اطفال مبتلا به بیماری سوراخ قلب و حمایت مالی در این زمینه نیز با هیأت یادشده گفت‌وگو کرد



هیأت سازمان همکاری اسلامی در مورد بخش‌های یادشده، اطمینان همکاری‌های دوامدار را داد و اظهار داشت که تلاش می‌کند زمینه همکاری‌ها و هماهنگی همه‌جانبه را در بخش های مذکور فراهم سازد. آقای بخیت همچنان گفت که هزینه‌های عملیات جراحی شماری از اطفال مبتلا به مشکلات قلبی را نیز بر عهده خواهند گرفت.از سوی‌هم، نمایندگان نیز اطمینان دادند که این پروژه را در جریان یک سال، مطابق با تمام SCI مؤسسه معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و برای تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد

د عامې روغتيا وزارت په هرات ولايت کې د روانې او لومړنيو روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو په موخه د 153 زره ډالرو په ارزښت هوکړه‌ليک لاسليک کړ



د عامې روغتيا وزارت له لوري هرات ولايت کې د روانې او لومړنيو روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو په موخه له World Vision International-WVI مؤسسې سره د (153000) يو سل درې پنځوس زره ډالرو په ارزښت هوکړه ليک لاسليک شو

دا هوکړه ليک د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړولو، لاسرسي زياتولو او د ولس روغتيايي ستونزو کمولو په موخه د لسو ميشتو لپاره لاسليک شو، چې له مخې به يې د يو روغتيايي مرکز له لارې د ياد ولايت (24324) تنه اوسېدونکي له روغتيايي خدماتو برخمن او (19) تنو ته به روغتيايي برخه کې د کار زمينه برابره شي

بل لور، د WVI مؤسسې استازو هم ډاډ څرګند کړ، چې يادە پروژه به د لسو ميشتو په ترڅ کې له ټولو ټاکل شويو معيارونو سره سمه پلي کړي او د خلکو روغتيايي اړتياوو پوره کولو ته به ځانګړې پاملرنه کوي

از یک تعداد تأسیسات دوایی و مواد غذایی در ساحات مختلف شهر پلخمری نظارت به عمل آمد



تیم آمریت نظارت و بررسی ریاست صحت‌عامه ولایت بغلان، از (33) باب تأسیسات مواد غذایی و دوایی در شهر پلخمری، نظارت نمود که در نتیجه(51) قلم مواد غذایی وادویه تاریخ گذشته و فاسد شده به وزن تقریبی (743) کیلو گرام جمع آوری و جهت هدر به محل تعیین شده آن انتقال داده شد

همچنان این تیم از نکات مثبت و موارد قابل تقدیر فعالیت تأسیسات مربوطه قدردانی نموده و در قسمت موارد منفی و نواقصی که نیاز به اصلاح داشت، هدایات لازم را به مسوولان سپرد

Private Healthcare Facilities Monitored in Helmand, Kapisa and Baghlan



Monitoring and inspection teams from the provincial public health directorates inspected private healthcare facilities in Helmand Province's provincial capital and Nijrab District of Kapisa Province.

As a result of the inspections in Helmand, three private clinics were closed for violating health regulations. In addition, 30 types of expired and substandard medicines were confiscated and transferred to a designated site for proper disposal.

Similarly, 93 types of expired and substandard medicines were confiscated in Kapisa and 37 types in Baghlan, and transferred to designated sites for destruction.

از سکتور صحی خصوصی در ولایت‌های هلمند، کاپیسا و بغلان نظارت صورت گرفت

مسئولان نظارت و بررسی ریاست‌های صحت‌عامه، از فعالیت‌های سکتور صحی خصوصی در مرکز ولایت هلمند و ولسوالی نجراب ولایت کاپیسا نظارت کردند. در نتیجه این نظارت‌ها، در هلمند سه باب معاینه‌خانه به دلیل نقض از قوانین صحی مسدود و 30 قلم ادویه تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت جمع‌آوری و به‌منظور هدر به محل تعیین‌شده انتقال داده شد

همچنان، در کاپیسا 93 قلم و در بغلان 37 قلم ادویه تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت جمع‌آوری و به‌منظور هدر به محل تعیین‌شده انتقال داده شد

د اتاترک د ماشومانو درملنې تخصصي او ثالثي روغتون په روان کال کې 895 لوی او واړه جراحي عملیات په وړیا توګه ترسره کړي دي



په ترسره شویو عملیاتو کې 491 لوی او 404 واړه جراحي عملیات شامل دي، چې ټول د افغان متخصصو او مجربو ډاکټرانو له لوري ترسره شوي دي
همدارنګه، په یاد روغتون کې 47 زره او 990 ناروغانو ته خارج بستر(OPD) او 7 زره او 69 نورو ته داخل بستر (IPD) روغتیایي خدمتونه په وړیا توګه وړاندې شوي دي

در شفاخانه تخصصی و ثالثی اطفال اتاترک وزارت صحت‌عامه، در سال روان 895 عملیات جراحی بزرگ و کوچک را به‌گونه رایگان انجام داده است

از جمله این عملیات‌ها، 491 مورد جراحی بزرگ و 404 مورد جراحی کوچک بوده که همه‌ای آن‌ها توسط داکتران متخصص و مجرب افغان اجرا شده‌است
همچنان، در این شفاخانه برای 47 هزار و 990 تن بیمار خدمات صحی سراپا (OPD) و برای 7 هزار و 69 تن بیمار دیگر خدمات صحی داخل بستر (IPD) به‌صورت رایگان ارائه شده است

محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، نشستی آنلاین را با حامیان اجراییوی PLC برگزار کرد



در این نشست، معینان و نماینده‌گان وزارت‌های صحت عربستان سعودی، قطر و امارات متحده عربی، نماینده‌گان مرکز امداد و کمک‌های بشردوستانه ملک سلمان (KSrelief) و بنیاد محمد بن زاید (MBZ) اشتراک داشتند
در این نشست، در مورد حمایت از سکتور صحی افغانستان، تطبیق اولویت‌های تعیین شده در بخش زیربناهای صحی و تجهیزات طبی و وضعیت کنونی پولیو بحث و تبادل نظر صورت گرفت
محترم معین عرضه خدمات صحی، از همکاری‌های شرکایی صحی ابراز قدردانی نمود و محو پولیو را از اولویت‌های اساسی وزارت صحت‌عامه دانست
همچنان، بر ضرورت افزایش پوشش و کیفیت واکسیناسیون در مناطق پُرخطر، دسترسی به اطفال بازمانده از واکسین، تقویت اعتماد جوامع و تداوم همکاری‌های تخنیکی و عملی تأکید صورت گرفت

Cosmetics Shops Inspected in Herat Province



Officials from the Monitoring and Inspection Department of the Herat Provincial Public Health Directorate inspected 29 cosmetics shops in Herat city. As a result, 1000 kilograms of unusable and expired products were collected and transferred to a designated site for disposal.

د مرکز او ولایتونو 150 تنو د سنتي طب طبیبانو د مسلکي ظرفیت لوړونې ښوونیز پروګرام ترسره شو



د عامې روغتیا وزارت د سنتي طبابت د چارو تنظیم ریاست په نوښت او د روغتیا نړیوال سازمان(WHO) په مالي ملاتړ، د مرکز او ولایتونو 150 تنو د سنتي طب طبیبانو د مسلکي ظرفیت لوړونې ښوونیز پروګرام د ټاکل شویو ښوونیزو موضوعاتو له بشپړېدو وروسته پای ته ورسېد

د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د یاد پروګرام د پای مراسمو کې په هېواد کې د سنتي طبابت د بیا راژوندي کولو، پیاوړتیا او معیاري کولو پر اهمیت ټینګار وکړ او له ګډونوالو یې وغوښتل، چې د اړوندو معیارونو، مسلکي اصولو او نافذه مقرراتو په رعایتولو سره د سنتي طبابت د ودې او خدمتونو د کیفیت ښه‌والي لپاره هڅې وکړي

د دغه ښوونیز پروګرام موخه د سنتي طب د طبیبانو مسلکي ظرفیت لوړول، د اړوندو قوانینو او معیارونو په اړه د هغوی پوهاوی زیاتول، د سنتي طبابت د خدمتونو معیاري کول او د سنتي طب د طبیبانو او تنظیمونکو ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا وه

از بین بردن 3520 کیلوگرام ادویه بی‌کیفیت در منطقه گُزک



کیلوگرام ادویه بی‌کیفیت مربوط به فابریکه سلیم نیچرل، از سوی معینیت غذا و ادویه 3520 وزارت صحت‌عامه، در حضور نماینده‌گان ادارات مربوطه در منطقه گُزک از بین برده شد
این ادویه شامل دو قلم بود که یکی از آن‌ها 13 هزار و 300 بوتل و دیگری 7 هزار بوتل را در بر می‌گرفت. بر اساس نتایج آزمایش‌های لابراتوار کنترول کیفیت ادویه، هر دو قلم بی کیفیت تشخیص شده بودند

د څېړنې میتودولوژۍ په برخه کې 28 تنه ټرېنر متخصصین فارغ شول



د عامې روغتیا وزارت د روغتیا ملي انسټیټیوټ له لوري د روغتیا نړیوال سازمان په همکارۍ د څېړنې میتودولوژۍ په برخه کې د شپږ میاشتني روزنیزې دورې 28 تنو ټرېنر متخصصینو د فراغت غونډه ترسره شوه

دا په یاده برخه کې لومړنۍ روزنیزه دوره وه، چې د کابل، هرات، بلخ او کندز ولایتونو ټرینر متخصصینو په کې ګډون کړی و

په فراغت غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم، د افغانستان د روغتیا ملي انسټیټیوټ لوی رئیس ډاکټر عبدالجبار حیدر، یو شمېر مرکزي رئیسانو، ټرېنر متخصصینو او روغتیایي کارکوونکو ګډون کړی و

د مقام د دفتر لوی رئیس، د اسلامي لارښوونو په رڼا کې د علم او زده کړې پر ارزښت خبرې وکړې او له فارغو شویو متخصصینو یې وغوښتل، چې خپلې زده کړې د خلکو د خدمت او د روغتیایي ستونزو حل لپاره په عملي ډول وکاروي او له نورو روغتیایي کارکوونکو سره یې شریکې کړي

همداراز، ډاکټر عبدالجبار حیدر د یادو متخصصینو فراغت مهمه لاسته راوړنه وبلله او ویې ویل: د څېړنو پیاوړتیا د روغتیایي خدمتونو د کیفیت لوړولو او د شواهدو پر بنسټ د تصمیم نیونې لپاره مهمه ده

نوموړي فارغو شویو متخصصینو ته د لا زیاتو همکاریو ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې د روغتیایي کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړولو په موخه به داسې روزنیزې برنامې دوام ولري

د غزني او بادغيس ولايتي روغتونونو ته دوه پرمختللي اکسری ماشينونه وسپارل شول



د عامې روغتيا وزارت په همغږۍ او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام (UNDP) له لوري د 144 زره امريکايي ډالرو په ارزښت دوه پرمختللي اکسری ماشينونه پېرل شوي او د غزني او بادغيس ولايتي روغتونونو ته وسپارل شول

دغه ماشينونه په پرمختللې ټکنالوژۍ سمبال دي او د روغتيايي خدمتونو د کيفيت لوړولو، د ناروغيو د دقيق او پر وخت تشخيص او د تشخيصيه ظرفيتونو د پياوړتيا په موخه يادو روغتونونو ته ورکړل شوه

د يادو ولايتونو د عامې روغتيا رياستونو مسؤلينو د دغو ماشينونو د پېرلو له امله د UNDP له مسؤلينو څخه مننه وکړه او د روغتيايي خدمتونو د کيفيت لوړولو، د تشخيصيه امکاناتو پراختيا، د نوې ټکنالوژۍ کارونې او خلکو ته د غوره روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو برخه کې يې د خپلو هڅو پر دوام ټينګار وکړ

نشست اداری معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه برگزار شد



این نشست تحت رهبری محترم مولوی حمدالله زاهد، معین غذا و ادویه وزارت صحت عامه، با اشتراک رئیسان بخش‌های دوایی و مشاورین و متخصصین تخنیکی، حقوقی و اداری این معینیت برگزار شد

در این نشست، موضوعات مرتبط با تنظیم و ثبت ادویه، بررسی وضعیت شرکت‌ها و تأسیسات دوایی، جوازدهی و تطبیق مقررات و رهنمودها مورد بحث و بررسی قرار گرفت همچنان، اشتراک‌کنندگان در مورد بهبود روند کاری، تسریع اجراآت و افزایش هماهنگی میان بخش‌های مربوط، دیدگاه‌ها و پیشنهادات خود را ارائه کردند

در پایان این نشست، محترم مولوی حمدالله زاهد بر رعایت دقیق قوانین و مقررات، رسیدگی به‌موقع به امور مراجعین و پیگیری منظم موضوعات تأکید نموده و از مسئولان خواست تا اجراآت مربوط را به‌گونه منظم و شفاف پیگیری نمایند.

MoPH Conducts Three-Day Monitoring Training for 20 Provincial Staff Members



The Ministry of Public Health's Capacity Building Directorate conducted a three-day training programme for 20 monitoring staff from the provinces of Logar, Panjshir, Nuristan, Khost, Parwan, Kapisa, Laghman and Maidan Wardak.

The training aimed to strengthen participants' professional knowledge and practical skills in monitoring, enhance the effectiveness of monitoring activities, and improve work procedures so that they could perform their duties more effectively and in line with established standards.

The programme was conducted as part of the Capacity Building Directorate's professional training activities, focusing on standardizing monitoring procedures, strengthening staff capacity and improving the quality of healthcare services.

د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي په مشرۍ د شفانو شورا غونډه ترسره شوه



په دې غونډه کې چې د عامې روغتیا وزارت د اکمال تخصص لوی رئیس ډاکټر نثار احمد نیازي، اړوندو مسؤلینو او د مرکزي روغتونونو د شفانو شورا غړو ګډون کړی و، د یو شمېر متخصصینو د ترفیع، د شفانو په توګه د ځینو ټرینر متخصصینو ټاکلو، له پاکستان څخه د اجباري رایستلو له املې، د هغو 24 تنو ډاکټرانو د پاتې زده کړو د بشپړولو لپاره په تخصص پروګرام کې د شاملېدو او د ټریننګ له اصولو څخه د سرغړونې او خپلې دندې د ناسمې کارونې له املې په تخصص پروګرام کې د دوو تنو ټرینې ډاکټرانو د راتلونکي په اړه بحث او خبرې ترسره شوې

د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، اړوندو مسؤلینو ته د لازمو اجراآتو ترسره کولو سپارښتنه وکړه او ویې ویل، کوښښ وکړئ چې خپل مسؤلیتونه په سمه توګه ترسره کړئ، ځکه ستاسې مسؤلیتونه د ملت ستر امانت دی
دغه راز، ښاغلي مرستیال د شورا غړو ته وویل، که تاسې په خپلو اړوندو مسؤلیتونو له کومو ستونزو سره مخ کېږي، کولای شئ له موږ سره یې په اسانۍ شریکې کړئ او موږ به ورته پوره پاملرنه او رسېدنه کوو

د مرکز او ولایتونو 150 تنو د سنتي طبابت طبیبانو ته روزنیز ورکشاپ پیل شو



د عامې روغتیا وزارت د سنتي طبابت د چارو تنظیم ریاست په نوښت او د روغتیا نړیوال سازمان په مالي ملاتړ په مرکز کابل ښار کې د مرکز او ولایتونو 150 تنو د سنتي طبابت طبیبانو ته روزنیز ورکشاپ پیل شو

د دغه ورکشاپ موخه د سنتي طبابت د طبیبانو مسلکي ظرفیت لوړول، د اړوندو قوانینو او معیارونو په اړه د هغوی د پوهاوي زیاتول، د سنتي طبابت د روغتیایي خدمتونو معیاري کول او د دې طبابت د طبیبانو او تنظیموونکو ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا ده

په دغه روزنیز ورکشاپ کې به د سنتي طبابت اړوند تخنیکي، مسلکي او تنظیمي موضوعات تدریس شي، چې په کې د عطاریو او حجامت مرکزونو د فعالیت اصول، د طبابت اخلاق، د روغتیایي تاسیساتو د جوازونو اخیستلو بهیر، د سنتي درملو د ساتنې او وېش اصول، د تغذیې اهمیت او د ژوند د طرز مدیریت شامل دي

Drug Prevention Awareness Programme Held for Over 2,200 Students and Teachers at Qala-e Ahmad Khan High School



The program was organized by the Drug Treatment and Awareness officials of Ibn-e-Sina 1,000-Bed Hospital, affiliated with the Ministry of Public Health.

Participants received information on the importance of raising awareness, the role of young people in building a healthy future, the importance of preventing addiction, the causes of addiction, the role of families and peers in preventing drug use, ways to address risks from a social perspective, and the adverse effects of addiction on individuals and society.